مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۸۴** (از ۱۵ الی ۲۲ سنبله ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........................................................................................ ۳

### افزایش جرایم جنایی و ضعف رسیده‌گی به آن

- آمار تکان دهندهٔ جرایم جنایی ..................................................................... ۴
- عوامل افزایش جنایات ........................................................................ ۵
- حامیان مجرمین ........................................................................ ٦





## په پاکستان کې د سیاسي ګوډوډۍ لاملونه او پایلې


- د روانو پاڅونونو پیل ............................................................................ ۷
- لانګ مارچ؛ په پاکستان کې د اپوزیسیون وروستۍ وسله ............................................ ۸
- وروستي پاڅونونه د بریا که د ناکامۍ په لور؟ ................................................... ۹
- د پاڅونونو ترشا مخفي لاسونه ................................................................ ۹
- په روان کړکېچ کې د پوځ دریځ ................................................................ ۱۰
- پوځي پاکستان به د افغانستان په ګټه وي که سیاسي؟ ............................................ ۱۱








## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، د هېواد په کچه د جنایي جرمونو د زیاتوالي او پر تړولنیز وضعیت یې د ناوړه اغېزو او همدا راز د سیمې په کچه په پاکستان کې د وروستیو سیاسي ګډوډیو په تړاو، د شتراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل د بورډ شننې لولئ.

* په دې وروستیو کې د کابل ولایت په پغمان ولسوالی کې له یوې دردناکې جنایي پېښې وروسته، د هېواد په کچه د جنایي جرمونو د زیاتوالي په تړاو غبرګونونه زیات شوي دي. دا په داسې حال کې دي، چې هره ورځ حتا د هېواد د لویو ښارونو په باامنه سیمو کې بېلابېل ډوله جنایي پېښې کېږي؛ خو عاملینو ته یې په هېواد کې د شته سیاسي او اداري فساد له کبله سزا نه ورکول کېږي. د دارنګه پېښو د زیاتوالي عوامل څه دي؟ او دا پېښې ولې ورځ تر بلې مخ پر زیاتېدو دي؟

* همدارنګه د پاکستان د حکومت پر ضد د عمران خان او طاهر القادري په مشرۍ، له تېرې یوې میاشتې راهیسې روان لاریونونه او پاڅونونه بیا د سیمې په کچه د مهمو پېښو له جملې څخه وو. دا چې پاکستان په تېرو څو لسیزو کې د دا ډول پاڅونونو په پایله کې د حکومتونو د بدلون شاهد و؛ په دغه هېواد کې د وروستیو ګډوډیو په تړاو هم بېلابېل تحلیلونه شته دي؛ نو دا چې د دغو پاڅونونو پایله به څه کېږي؟ او پر افغانستان به یې اغېزې څه وي؟ هغه موضوعات دي، چې د دې اوونۍ په تحلیل کې څېړل شوي دي.

## افزایش جرایم جنایی و ضعف رسیده‌گی به آن




افزایش جرایم جنایی برعلاوهٔ تأثیرات سوء بر روان و زنده‌گی مردم، بر اقتصاد کشور نیز تأثیرات بدی داشته است. اختطاف بازرگانان و افراد خانواده‌های شان از جاهای امن شهرهای بزرگ کشور، باعث شده که تاجران و سرمایه‌گذاران از فعالیت‌های اقتصادی در کشور خود دلسرد شوند.

همین جرایم دلخراش باعث شده که فاصله بین مردم و دولت بیشتر شده و حتا قربانیان چنین حوادث دست به اسلحه بزنند و برای حفظ جان، مال و عزت شان به صفوف مخالفین دولت بپیوندند.

در این اواخر شاهد فجیع‌ترین واقعهٔ جنایی در اطراف شهر کابل بودیم که چند تن ملبس با یونیفورم پولیس در ولسوالی پغمان ولایت کابل، شب هنگام موترهایی را که از محفل عروسی برمی‌گشتند، متوقف نموده و برعلاوهٔ دزدیدن اموال آنان، چند تن از زنان را در پیش مردان خانوادهٔ شان، مورد تجاوز جنسی قرار دادند. در حالیکه این رویداد مشت نمونهٔ خروار است، ولی همه روزه جنایاتی صورت می‌گیرد که رسانه‌ها به آن درسترسی ندارند. پرسش این است که عوامل اساسی افزایش چنین جرایم ناگوار در کشور چیست؟ و چرا روز به روز افزایش می‌یابد؟

## آمار تکان دهندهٔ جرایم جنایی

هرچند رویدادهای جنایی با انواع مختلف آن، در سطح تمام کشور وجود دارند که به تحقیق عمیقی نیاز دارد و آمار دقیق و حقیقی آن موجود نیست. اما در پایتخت کشور که از ولایات با امن کشور شمرده می‌شود، میزان بلند جرایم جنایی نشانگر آن است که کشور ما از این ناحیه با چالش بزرگی روبرو است.

بر اساس آمار وزارت داخله، تنها در ماه اول فصل تابستان در شهر کابل هشت مورد قتل صورت گرفته و جسد سی تن که بگونهٔ مرموز به قتل رسیده بودند، بدست آمده است. در بیشتر این موارد چگونگی قتل و اجساد افراد کشته شده شناخته نمی‌شود، به گونهٔ مثال چند روز پیش در غرب کابل جسد بدون سر یک دختر ۲۰ ساله پیدا شد که تاکنون هویت آن

شناسایی نشده است. در همین ماه مجموعاً ۲۲۴ واقعه در سطح کشور صورت گرفته و در کل گراف جرایم قتل در ولایات کابل، بلخ، ننگرهار، خوست و هرات بالا است.

بربنیاد برخی آمارها تنها در پنچ ماه نخست سال جاری بیش از ۱۳۰۰ رویداد جنایی در کابل رخ داده است که در نتیجهٔ آن ۱۵۸ نفر کشته و نزدیک به دو هزار تن بازداشت شده‌اند.

طبق این آمار در میان رویدادهای جنایی در پنج ماه نخست سال جاری، ۲۰ مورد تجاوز جنسی و ۹ قضیهٔ آدم ربایی وجود دارد. این آمار به معنای ارتکاب چهار مورد جرم در هر روز به گونهٔ اوسط در شهر کابل است؛ شهری که نزدیک به ۱۵ هزار سرباز امنیتی در آن فعالیت دارند.

جرم‌هایی که بیشتر صورت گرفته‌اند، دزدی، کشتن، تجاوز جنسی، راه‌گیری، حمل جنگ‌افزار بدون مجوز، و آدم‌ربایی هستند. جالب اینجاست که بیتشر این جرم‌ها در مرکز شهر و در جاهای پر رفت‌وآمد رخ داده‌اند. حوزهٔ پنجم امنیتی پولیس با ۱۳۵ مورد و حوزهٔ هشتم با ۱۱۵ مورد رویداد در صدر این محل‌ها قرار دارند.

قابل یادآوری است که قتل‌های ناموسی نیز در برخی ولایات گراف جرایم را بالا برده است؛ به گونهٔ مثال چند روز پیش در ولایت هرات در یک روز پنج خانم، بر اثر خشونت‌های خانواده‌گی به قتل رسیده بودند.

## عوامل افزایش جنایات

فساد گستردهٔ سیاسی و اداری در کشور باعث شده که مجرمین به آسانی از پنجهٔ قانون رها شوند و به فعالیت‌های خود با اطمینان بیشتری ادامه دهند. اکثراً مجرمینی که بازداشت می‌شوند، سابقهٔ جرمی دارند و در هنگام محاکمه به دلیل فساد اداری در ارگان‌های عدلی و قضایی رها شده‌اند. بنابراین اغماض، تساهل، عدم تطبیق قانون از سوی دولت بالای مجرمین و مجازات نشدن جنایتکاران از سوی ارگان‌های عدلی و قضایی، از عوامل اساسی افزایش جرایم به شمار می‌رود.

یکی دیگر از عوامل افزایش جنایات در جامعه، نه تنها اکنون بلکه در طول بیش از یک دههٔ گذشته، زورمندان و مجرمین صاحب قدرت بوده‌اند که چنین گروه‌های جنایتکار را بخاطر منافع شوم شان حمایت می‌کردند و در برابر قانون از آنها دفاع می‌کنند.

همچنان خشونت‌های خانواده‌گی، بی‌کاری و مشکلات اقتصادی نیز عوامل افزایش این جنایات می‌باشد و دولت در سیزده سال گذشته نتوانست برای جوانانی که دست با چنین وحشت‌ها می‌زنند، مصروفیت‌هایی را ایجاد نماید.

از سوی دیگر ضعف و نامسلکی بودن نیروهای امنیتی باعث شده که نه تنها در جلوگیری چنین رویدادها ناکام بمانند، حتا در بعضی مواقع در ارتکاب چنین جنایات همکار و همدست باشند.

در کنار این عوامل، در سیزده سال گذشته ارزش‌های دینی و اسلامی جامعهٔ ما نیز توسط رسانه‌هایی که از سوی بیگانه‌گان حمایت می‌شوند، کوبیده شده‌اند. در حالیکه یکی از راه‌هایی که در کاهش جرایم جنایی در جامعه کمک می‌کند، جلوگیری از نشرات مبتذل در رسانه‌ها و بجای آن نشر برنامه‌های مفید و آگاهی دهنده در آن می‌باشد.

## حامیان مجرمین

در سیزده سال گذشته همه روزه شاهد ده‌ها حادثهٔ دلخراش بودیم. به گونهٔ مثال در روز روشن و در مناطق امن شهر کابل با استفاده از موترهای شیشه‌سیاه حوادث اختطاف رخ می‌دهند، اما تا امروز کسی نه به جرم این اختطاف‌ها به کیفر رسیده و نه هم عاملین آن بازداشت شده‌اند.

افرادی که چنین جرایم را مرتکب می‌شوند عمدتاً افرادی هستند که با یک زورمند ارتباط دارند و دولت قانون را بالای افرادی تطبیق می‌کند که به اصطلاح در آسمان ستاره و در زمین سایه ندارند. افراد زورمند حتا به فرمان فوق العاده رها می‌شوند. اینکه تنها در شهر کابل شاهد ده‌ها مورد اختطاف بودیم، کجا شدند قاتلان آن؟

جرایم جنایی با انواع مختلف آن در جامعهٔ ما وجود دارد که گاه‌گاهی در چارچوب قانون توجیه نیز می‌شود. در این روزها بار دیگر از جرایم پولیس محلی در ولایت کندز پرده برداشته شد که سال‌ها پیش شکایاتی از آن وجود داشت، اما با اقدام نکردن در برابر آن به نوعی حکومت در آن سهیم می‌باشد. اگر شخصی بنام حکیم شجاعی جان صدها فرد بی‌گناه را در ارزگان می‌گیرد، و سپس مجرم به کمک معاون رئیس جمهور رها می‌شود، در حقیقت حکومت با افزایش این جرایم کمک کرده است.

در حالیکه نیروهای امنیتی افغان تا ۴۵۰ هزار بالغ شده‌اند، ولی شرح جرایم با گذشت هر روز افزایش قابل ملاحظه‌یی می‌یابد، دلیل آن هراس نداشتن مجرمین از دولت و عدم تطبیق قانون و حدود الهی است.

# په پاکستان کې د سیاسي ګوندونو لاملونه او پایلې



## د روانو پاڅونونو پیل

دا چې د پاکستان نظام فدرالي دی، د ۲۰۱۳ کال په پارلماني ټاکنو کې مسلم لیګ "نواز" ګوند په پنجاب ایالت کې او د عمران خان تحریک انصاف ګوند په خیبرپښتونخوا کې بریالی شو. مسلم لیګ "ن" ګوند بیا په پارلمان کې د جمعیت علمای اسلام "فضل الرحمن" ګوند او نورو کوچنیو ګوندونو سره یوځای حکومت جوړ کړ او د عمران خان تحریک انصاف ګوند له جماعت اسلامي ګوند سره ګډ حکومت جوړ کړ؛ چې په پارلمان کې مسلم لیګ "ن" ګوند ټاکنې وګټلې او نوازشریف لومړی وزیر وټاکل شو.

په دغه هېواد کې اوسنیو ګډوډیو د ۲۰۱۳ کال له همدغو پارلماني ټاکنو سرچینه اخیستې او د تحریک انصاف ګوند له تېرو ۱۴ میاشتو راهیسې په دغو ټاکنو کې د نوازشریف په ګټه ترسره شوو درغلیو ادعا کوله. عمران خان غوښتي وو، چې د رایو د شفافیت لپاره دې په څلورو ټاکنیزو حلقو کې د درغلیو څېړنه وشي، چې یوه حلقه هم د لومړي وزیر نواز شریف وه؛ مګر د نواز شریف ګوند دا ټاکنې د ملي او نړیوالو څارونکو په وړاندې او په ټولو معیارونو برابرې بللې.

د دې ترځنګ د ۲۰۱۴ کال په جون میاشت کې، د پنجاب پولیسو په «ماډل ټاون» کې پر «منهاج القران» دفتر، چې د طاهر القادري تر مشرۍ لاندې عوامي تحریک پورې تړاو لري، په یوه برید کې پر مظاهره چیانو ډزې وکړې، چې ۱۴ تنه پکې ووژل شول او ۸۴ نور ټپیان شول. دا پېښه هم خورا زیاته رسنیزه شوه او د ټلویزیون په پردو وښودل شول، چې د پنجاب پولیس په ښکاره پکې ښکېل دي. وروسته عوامي تحریک ګوند غوښتنه وکړه، چې د پېښې (F.I.R)[1] دې ولیکل شي؛ خو پولیسو تر څو میاشتو پورې د دوی (ایف آی آر) هم ونه لیکه.

---

[1] First Information Report (FIR) د پاکستان، هند او بنګله دېش د قوانینو له مخې د پولیسو له خوا د یوې پېښې د لومړنیو معلوماتو لیکلی سند یا هم لومړني ثبت شوي معلومات.

همدا لاملونه وو، چې عمران خان او طاهر القادري د تېرې میلادي میاشتې (اګسټ) ۱۴مه، چې د پاکستان د آزادۍ ورځ ده، خلک لاریونونو ته راوبلل او له همغې نېټې وروسته تراوسه په اسلام اباد کې اخ و ډب روان دی، چې سلګونو تنو ته مرګ ژوبله هم پکې اوښتې ده.

په پاکستان کې د روان وضعیت په تړاو ډېرې پوښتنې بې ځوابه دي؛ لکه دا چې د دغو لاریونونو وروستۍ پایله به څه کېږي؟ او همدا راز اغېزې به یې د افغانستان پر سیاسي وضعیت څه وي؟

## لانګ مارچ؛ په پاکستان کې د اپوزیسیون وروستۍ وسله

لانګ مارچ[2] په پاکستان کې تاریخي رول لري او د وخت د حکومتونو پرخلاف دا د اپوزیسیون وروستۍ وسله وه. له دې لارې اپوزیسیون عام خلک د حکومت پر خلاف عمومي لاریونونو ته رابولي او بیا یې د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د پلازمېنې اسلام اباد په لور مارش کوي.

په ۱۹۷۷ کال د ذوالفقار علي بوټو د حکومت پرخلاف د پاکستان ملي ایتلاف (PNA) جوړ شو او په پاکستان کې یې اړ دوړ پېل کړ. هغوی هم ورته غوښتنې درلودې او په ټاکنو کې یې د درغلیو ادعا کوله، چې په پایله کې یې بوټو له حکومت څخه ګوښه شو او د یوې پخوانۍ (F.I.R) قضیې له امله د محکمې مېز ته راکش کړل شو. بوټو د دغه هېواد د پیپلز ګوند بنسټګر و، چې د همدې قضیې او هېواد ته د خیانت له امله د اعدام حکم پرې وشو او د ځینو هېوادونو د مشرانو له خوا نوموړي ته د بښنې له غوښتنې سره‌سره، په ۱۹۷۹ کال کې اعدام شو.

دغه راز په تېرو لسیزو کې پاکستان د نورو لانګ مارچونو شاهد هم و، چې تر ډېره یې اغېزې جوتې وې. د عمران خان د ګوند اوسنی لانګ مارچ هم، چې دوی ورته د «آزادۍ مارچ» وایي، د حکومت له خوا د دوی د وړاندیزونو د نه منلو او د رایو د تفتیش د پروسې نه پېل کولو له امله پیل شو. تېره اوونۍ د پاکستان د بهرنیو چارو پخواني وزیر او د تحریک انصاف ګوند غړي شاه محمود قریشي هم له همدې امله په پارلمان کې دې موضوع ته اشاره وکړه او ویې ویل چې دوی په تکراري ډول له حکومت څخه په دې اړه غوښتنې کړې دي؛ خو حکومت دا موضوع جدي ونه نیوله او بالاخره دوی اړ شول، چې سړکونو ته راووځي.

د عمران خان د ګوند ترڅنګ د طاهر القادري ګوند پلویان هم د «انقلاب» تر نامه لاندې له دې امله سړکونو ته راووتل، چې په ټاکنو کې د قاتلینو پرخلاف د دوی (F.I.R) ونه لیکل شو او له همدې امله دوی اړ شول، چې سړکونو ته راووځي او د لومړي وزیر نواز شریف او د پنجاب د وزیر اعلی شهباز شریف د استعفا ګانو غوښتنې وکړي.

---

[2] Long March په پاکستان کې د فساد د پراخېدو له امله د حکومت پر ضد عمومي پاڅون

## وروستي پاڅونونه د بریا که د ناکامی په لور؟

د عمران خان د آزادی مارچ له اعلانولو سره په پاکستان کې د ده په اړه بحثونو زور واخست. ځینو د نومړي دا پریکړه د ده «سیاسي ځانوژنه» ګڼله او ځینې نور بیا په دې اند دي، چې دی به تر وروستی شېبې پورې وجنګیږي او لومړی وزیر به استعفا ته اړباسي.

د لومړي فکر پلویان، چې لانګ مارچ د عمران خان «سیاسي ځانوژنه» ګڼي، د ده دا پرېکړه د بلجیم په (واټر لو) ښار د ناپلیون له جګړې سره ورته بولي، چې د ناپلیون د ماتې لامل شوه؛ خو د دویم فکر خاوندان بیا وایي، چې نومړي د طارق بن زیاد په څېر ټولې کښتۍ سوځولې دي او د غوڅې پرېکړې د لوبې لپاره یې چمتووالی نیولی؛ نو دی به په دې مبارزه کې ګټونکی او د نوازشریف ډله به بایلونکې وي.

خو د عمران خان له وروستیو سیاستونو داسې ښکاري، چې نومړی د سیاسي ځانوژنې په لور روان دی. د بېلګې په توګه د دغه هېواد پر ملي تېلوېزیون برید، پارلمان ته د وینا لپاره د خپل ګوند د غړي شاه محمود قریشي استول او د عمران خان له خوا پر «منفي-یو» فورمول ټینګار (چې وایي، یوازې نوازشریف دې ګوښه شي، نورې غوښتنې که نه منل کېږي هم پروا یې نشته) هغه هلې ځلې دي، چې له مخې یې په سیاسي خبرو اترو کې د بریا هڅه کوي، ترڅو خپلو پلویانو ته د خپل بریالیتوب ښودنه وکړي.

د مذهبي مشر طاهر القادري "انقلاب" مارچ بیا د عمران خان له "آزادی" مارچ سره یو څه توپیر لري. د طاهر القادري پلویان د (اېف آی آر) د نه لیکلو او د خپلو وژل شوو کسانو د قاتلینو سزا ته رسولو په موخه راپاربدلي او ترڅنګ یې له فدرالي پارلماني نظام څخه صدارتي نظام ته د پاکستان د نظام بدلولو هدف او ځینې نور اهداف لري، چې له همدې امله دوی خپل لاریون انقلاب بللی؛ مګر د شنونکو له نظره د القادري د پلویانو پاڅون بیا د حکومت لپاره تر ډېره جدي خنډ نه بلل کېږي او د عمران خان د پاڅون په بریا او ناکامی پورې تړلی برېښي.

## د پاڅونونو ترشا مخفي لاسونه

که څه هم د عمران خان د وروستي پاڅون تر شا د استخباراتي کړیو د شتون خبرې هم کېږي؛ مګر دا چې په رښتیا هم د دې ځواک تر شا کوم مخفي (استخباراتي) لاس شته کنه؟ په اړه یې څه ویل ستونزمن برېښي؛ خو له هغو ۱۲ ژورنالېستانو څخه، چې نواز شریف ورغوښتي وو، شاه زیب خانزاده ویلي چې: نواز شریف په خپلو خبرو کې څو ځله دا خبره وکړه، چې زه پوهېږم چې دا دواړه (عمران خان او طاهر القادري) چا راوغوښتل، بیا یې په لندن کې له یو بل سره مخامخ کړل او وروسته یې پاکستان ته

راوستل. د دغه ژورنالېست په خبره: موږ ژورنالېستانو په ډېر ټینګار سره پوښتنه ترې وکړه، چې د دوی تر شا څوک دي؟ خو لومړي وزیر زموږ دا پوښتنه ځواب نه کړه.

له بلې خوا که څه هم د القادري د پاڅون ترشا تر ډېره د مخفي لاسونو خبره ځواکمنه برېښي، خو د عمران خان د پاڅون په پرتله هومره اغېزناک نه ښکاري.

په ټولیز ډول ویلی شو، چې که د دوی ترشا د کوم مفخي لاس رول هم وي، بیا هم په اوسنیو اعتراضونو کې د ناپاکو رایو او درغلیو نه څېړل او په ماډل ټاون کې انساني وژنې او بیا د هغوی (اېف آی آر) نه ثبتول هم مهم رول لوبولی او د نورو استخباراتي عواملو ترڅنګ یې همدا اصلي او ظاهري عامل بلل کېږي.

## په روان کړکېچ کې د پوځ دریځ

یو شمېر شنونکي په دې اند دي، چې د روانو پاڅونونو ترشا د پاکستان د پوځ ملاتړ شته دی. که څه هم په دې تحلیل ډېره تکیه نشي کېدای؛ مګر د پخواني ولسمشر زرداري او پیپل ګوند له خوا د پوځ د استخباراتو (آی ایس آی) پر یوه مشر دا تور ولګېد، چې د عمران خان په سیاسي جلسو کې د ده تر شا ولاړ دی. که څه هم دا خبره په لومړیو کې تر یوه بریده راتوده شوه، مګر وروسته بیا ورو ورو بېرته سړه شوه.

دا چې د روانو پاڅونونو تر شا د پټو لاسونو تحلیلونه تراوسه ډېر باوري نه برېښي، نو له همدې امله په دې اړه شته تحلیلونه تر ډېره پر ظاهري عواملو راڅرخي. کله چې د وروستیو پاڅونونو په اړه حالات جدي شول، نو طاهر القادري او عمران خان د پوځ له مشر سره وکتل؛ خو تراوسه هم د دوی ترمنځ د شوو خبرو حقیقت نه دی څرګند شوی. بلخوا په وروستیو ورځو کې نوازشریف هم کابو هره ورځ د پوځ له مشر سره لیدنې کتنې درلودې، چې داسې ښکاري نوموړی له دې ناحیې په وېره کې دی.

په وروستیو پرېکړو کې یوه دا هم وه، چې د دواړو لورو ترمنځ په خبرو اترو کې دې پوځ د دریمګړي رول ولوبوي. له دې پرېکړې سره سملاسي دا بحثونه تاوده شول، چې پوځ چا او ولې سیاست ته راښکېل کړ. عمران خان او طاهر القادري د انتقاد ګوته حکومت ته ونیوله؛ مګر نوازشریف بیا وویل، چې دا کار یې د دوی د غوښتنې له مخې کړی. په همغه ورځ د نوازشریف له وینا او دې شاهدۍ وروسته د پوځ ویاندې اداري وویل، چې پوځ ته د دریمګړي رول د لوبولو وړاندیز د حکومت له خوا شوی دی.

اوس پوښتنه دا ده، چې ایا پوځ به له دریمګړي رول ورهاخوا کودتا ته هم ملا وتړي کنه؟ که څه هم جنرال پرویز مشرف ویلي، چې اوسني حالات د ده د ۱۹۹۹ کال د کودتا له حالاتو سره ورته دي؛ مګر په اوسنیو شرایطو کې د پوځ له خوا کودتا او بیا په

نړیواله کچه د هغې منل ناشوني برېښي. امریکا او انګلستان په اوسني کړکېچ کې د نواز شریف له حکومته ملاتړ اعلان کړ او څرګنده یې کړه چې دوی به په پاکستان کې د غیر جمهوري دریځ او کړنو پلوي ونه کړي.

په پاکستان کې پخوانی کودتاوې چې د نړیوالو له خوا ومنل شوې، لامل یې د نړۍ جیو-پولیټیکي بدلونونه وو. د ایوب خان کودتا په سړه جګړه کې رامنځته شوه، د ضیاء الحق کودتا داسې مهال وشوه، چې په افغانستان کې کمونېزم واک ته رسېدلی و او شورویانو پر افغانستان یرغل کړی و؛ همدا راز په ایران کې اسلامي انقلاب راغلی و او د امریکایانو ډیپلوماتان یې نیولي وو. دغو او څینې نورو حالاتو لوېدیځ اړ کړ، چې د ضیاءالحق له کودتا ملاتړ وکړي.

له نښو نښانو داسې ښکارېده چې جنرال پرویز مشرف هم، د خپلې کودتا له امله یوازې پاتې شوی و او د بېلګې په توګه کله چې هماغه وخت کلنټن هند ته سفر وکړ، د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د سیکرټر شمشاد احمد خان په وینا، مشرف له ده وغوښتل، چې له کلنټن سره د لاس ورکولو موقع برابره کړي. نوموړی وایي، چې په ډېره سخته یې کلنټن دې ته چمتو کړ، چې د څلورو ساعتونو لپاره پاکستان ته راشي، خو بیا یې هم شرط دا و، چې تصویر به نه اخېستل کېږي.

په اوسني حال کې که پوځ کوم غوڅ رول هم لوبوي، نو د کودتا په بڼه به نه وي؛ بلکې یا خو به نواز شریف ته ووایي، چې استعفا ورکړه او یا به هم عمران خان او قادري ته ووایي، چې نور مو له اسلام اباده بسترې تړې او مارچ مو ختم کړئ.

## پوځي پاکستان به د افغانستان په ګټه وي که سیاسي؟

دې پوښتنې ته چې آیا پوځي پاکستان به د افغانستان په ګټه وي او که جمهوري پاکستان؟ هله دقیق ځواب ورکول کېدای شوای، چې پاکستاني سیاسیونو د افغانستان په اړه بهرنیو چارو باندې بشپړ واک درلودی؛ ځکه نو دا پوښتنه مطرح ده، چې په پاکستان کې د افغانستان په اړه تګلارې څوک جوړوي؟

د پاکستان د تاریخ له مطالعې څرګندېږي، چې د افغانستان په تړاو په پاکستان کې ستراتېژۍ د پوځ او (آی اس آی) له خوا جوړېږي؛ دلته هم موخه د هماغه بدنام دوران «ستراتیژیک عمق» خبره ده، چې له امله یې دا مسلمان ګاونډی زموږ په هېواد کې ښکاره لاسوهنه کوي.

لاهم په پاکستان کې (آی اس آی) د دغه هېواد پر باندنیو چارو پوره اغېز لري؛ خو د کشمیر، هند او افغانستان په تړاو بیا بهرنی تګلارې خپل میراث ګڼي او ښایي هېڅ یوه سیاسي حکومت ته هم دا میراث ورپرې نږدي.

د افغانستان په اړه دواړو پوځي او سیاسي حکومتونه ډېر بد تاریخ لري. د پاکستان پوځي ایوب خان د امریکا U-20 الوتکې ته له "بډه بېرې" اډې څخه د پورته کېدو شین څراغ ورکړ، چې د افغانستان پر حدودو به ورختله او د شورویانو جاسوسي به يې کوله. هغه مهال افغانستان له پاکستان سره ډېرې خرابې اړیکې درلودې. وروسته بیا د بوټو سیاسي حکومت د داوود خان پر خلاف ځینې کسان وروزل او په افغانستان کې یې خپل ستراتېژیک عمق ته لاره پرانېستله. د ضیاء الحق د حکومت په وخت کې د ضیاء په نسبت د جونیجو سیاستونه د افغانستان په اړه ښه وو. خو بیا د بې نظیرې او نصیر الله بابر په وخت کې پاکستان د منفي ګامونو له پورته کولو څخه ډډه ونه کړه او دواړو په ټوله کې منفي رول لوبولی دی.

که څه هم دا یوې لویې څېړنې ته اړتیا لري، چې د افغانستان په اړه د پاکستان د پوځیانو سیاستونه ښه وو او که د سیاسیونو؟ خو افغان سیاستوال تر ډېره پر دې خوښ دي، چې په خپل ګاونډ کې یو سیاسي پاکستان ولري نه یو پوځي پاکستان! خو له دې هیلې سره سره به ښايي لږترلږه تر راتلونکې لسیزې پورې د قضیې د حل کولو اصلي ځواک له پوځ سره وي؛ مګر تر هغه وروسته ښايي ورو ورو په پاکستان کې هم د ترکیې په شان سیاسیون په دې وتوانېږي، چې د پوځ ځواک کمزوری کړي. پای

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (+93)